سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۱/۱۱

# آیا افغانستان یو اشغال شوی هیواد دی؟

په روانو حالاتو کی چی له یوه کال را په دی خوا په افغانستان کی د یوی تل پاتی سولی د تامین د پاره هم په ملی او هم په نړیواله سطحه هلی ځلی رواني دي، د هیواد د روښنفکرانو، سیاسیونو، تحلیل کونکو او همدارنګه د تاریخی پیښو د محقیقینو تر منځ په دی خبره چی آیا افغانستان یو اشغال شوی هیواد دی او که یو آزاد او مستقل هیواد؟؟

**د نظر زیات توپیرونه لیدل کیږی. ځیني وایی چی افغانستان یو اشغال شوی او مستعمره هیواد دی او ځنی بیا وایی چی: نه! افغانستان یو آزاد او خپلواک هیواد دی او خپلواک هیواد و، خو له هغه وخته چی په دی هیواد کی شاهی رژیم له منځه تللی او نور رژیمونه یو په بل پسی راغلی دی، د دی هیواد په چارو چی خارجی هیوادونو لاس وهنی پیل کړی چی تر ننه یی دوام میندلی دی، او په چارو کی لاس وهنه نه اشغال دی او نه مستعمره کیدل.**

د دی د پاره چی دی پوښتنو ته یو سم ځواب و مومو اړتیا ده چی د اشغال یا مستعمری او د آزادی او خپلواکی د مفاهیمو تعریف وشی. په دی مفاهیمو باندی د پوهیدلو نه وروسته به دا راته اسانه شی چی آیا افغانستان اشغال شوی هیواد دی که آزاد او مستقل؟

اشغال ته مستعمره هم وای چی په انګلیسی ژبه کی ورته د (کالونی او هابیتیشن (Colony – Habitation کلمی کارول شویدی. دا اصطلاحات په ویکپیدیا او انګلیسی ډکشنری کی داسی تعریف شویدی:

« په تاریخی لحاظ مستعمره هغه ساحه، سیمه یا هیواد دی چی د یوه بل هیواد د اوسیدونکو له خوا په مکمله توګه د سیاسی کنترول لاندی وی او اداری چاری یی د اشغال کونکی هیواد له خوا تر سره کیږی.» لکه په نولسمه او شلمه پیړی کی د اروپایی هیوادو اسیایی، افریقایی او د لاتینی امریکی د هیوادونو اشغال او یا د تزاری روسیی او شوروی اتحاد له خوا د منځنی اسیا د هیوادونو اشغال او مستعمره کیدل.د انګلیسی ډکشنری په لنډه توګه مستعمره داسی را پیژنی:

«هغه هیواد اشغال یا مستعمره بلل کیږی چی د یوه بل مقتدرهیواد له لوری نیول شوی وی او د هماغه هیواد له لوری اداره کیږی.»



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دمستعمری‌یااشغال‌دمفهوم په مقابله کی پیژندل شوی مفاهیم دآزادئ یاحق حاکمیت (Independence – Sovereignty) کلمی دی چی ویکیپیدیایی داسی را پیژنی:

«آزادی هغه حالت دی چی یو ملت، یو هیواد او یا یو دولت، چی اوسیدونکی یی په خپل اختیار حکومت جوړوی او په خپل واک او اختیار سره خپل هیواد اداره کوی.»

که پورته تعریفونه په نظر کی ونیسو نو افغانستان د ۱۹۱۹ کال نه راوروسته چی د غازی اعلیحضرت امان الله خان په زعامت سره مطلقی آزادئ ته رسیدلی دی، بیا تر ننه پوری نه د چامستعره پاتی شویدی او نه وربانذی کوم بل دولت کنترول لرلی دی. خو په دی کی هم بیا کوم شک نشته چی د ۱۹۷۳ کال نه را پدی خوا چی د هیواد شاهی نظام د یوی سپینی کودتا په نتیجه کی د سردار محمد داوود خان لخوا په جمهوری نظام بدل شو، نو دا نوی رژیم د هماغه لومړی پیل نه د بیلا بیلو هیوادونو له لوری و ګواښل شو او د ضعف او ماتی د پاره یی پټی او ښکاره هلی ځلی پیل شوی.

د شوروی دولت د جمهوریت داعلان سره سم د دی دولت نه له دی کبله چی په کودتا کی هغو ځوانو منصبدارانو غټه برخه درلوده چی په شوروی اتحاد او یا هم په نورو سوسیالیستی هیوادونو کی زده کړی کړی وی، خپل هر اړخیز ملاتړ اعلان کړی.

د دی سره سم د ښی اړخ سیاسی ډلو او په نړیواله سطحه د هغوی حمایت کونکو هیوادونو، د سردار محمد داوود خان رژیم ته د یوه کمونست پلوه رژیم په سترګه و کتل او د افغانستان د دایمی او همیشنی دښمن پاکستان په دننه کی یی د اخوان المسلمین د ډلی مشرانو ته د خرابکاری د پاره ځای ورکړ. د امریکا له خوا عربی هیوادونه دی ته و هڅول شول چی د افغان دولت د سقوط دپاره د دی ډلو سره مرسته وکاندی. دوی هم د دی د پاره چی د عربی هیوادونو او پاکستان مرستی را جلب کاندی د هیواد په ځینو برخو کی یی په دولتی ادارو وسله وال بریدونه وکړل او په دی توګه له هماغه وخته د افغانستان په دولتی امورکی د پردیولاس وهنه را پیل شوه.

کله چی په ۱۹۷۸م کال د اپریل په میاشت کی د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د نظامی کودتا په نتیجه کی د هیواد سیاسی قدرت په لاس کی ونیو، او د سردار محمد داوود خان جمهوری دولت یی له منځه یوړ، افغانستان نه یوائی د سیمی د هیوادونو بلکی د نړئ د پاره د خاصی پاملرنی یوه نقطه وګرځیده. د ثور د کودتا د بری په لومړئ ورځ شوروی دولت له دی رژیم څخه خپل هر اړخیز ملاتړ اعلان کړ او د داسی پلان په جوړولو یی لاس پوری کړ چی باید د همدی دولت په شتون کی ځان ګرمو اوبو ته ورسوی. په مقابل کی د امریکا دولت هم د شوروی په هدفونو خبرتیا لروده نو په دی یی کار پیل کړ چی څنګه تودو اوبو او په خاصه توګه منځنی ختیځ ته د شوروی د پر مختګ مخه ونیسی. دواړو لورو (شوروی او امریکا) د ساړه جنګ یوی حساسی مرحلی ته سره ورګډ شول او له بده مرغه د دوی د مقابلی او زور ازمایلو میدان د افغانستان جغرافیه جوړه شوه.

شوروی دولت د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د کمزوری او ناتوانه رهبری نه چی لا پخوا یی سره بی اعتماده کړی وو، ګټه پورته کړه. نورمحمد تره کی چی د ګوند او دولت مشر و، په امین و واژه او امین یی د هغه د حریف ببرک کارمل د پاره، په دی خاطر چی ګوندی د کار مل په وجود کی به ژر خپل هدف ته ورسیږی له منځه یوړ او په ۱۹۷۹م کال د دسمبر په میاشت (۱۳۵۸ ش کال د جدی ۶) کی په مستقیمه توګه په افغانستان باندی نظامی یر غل وکړاو د افغان کورنی جګړی دویم پړاو را پیل شو.

د دی پیښی نه وروسته لکه مخکی چی مو اشاره وکړه د لویو قدرتونو(شوروی اتحاد او ملګرو، امریکا او ملګرو) تر منځ د ساړه جنګ تر ټولو حساسه مرحله راپیل شوه او د افغانستان خاوره د دواړو خواو د سخت تجاوز لاندی راغله. دا خاوره د هغه پردی او تیل شوی ګرم جنګ میدان وګرځیده چی د سوون توکی یی په عمده توګه د افغانستان بی وزلی ولسونه او په خاصه توګه د هیواد په جنوب کی پراته پښتانه قومونه وو چی تر ننه هم په همهاغه شدت سر قربانی ورکوی.

شوروی دولت په نژدی لسو کالو ګرمه جګړه کی تر (١٥) زره نه زیات سربازان قربان کړل، خو نه یی خپل هدف تر لاسه نکړ او نه یی دا ادعا وکړه چی دوی افغانستان اشغال کړیدی .( که څه هم په ټولو دولتی چارو کی یی د خپلو مشاورینو په لاس پراخه لاس وهنه کوله). دوی او د وارسا د پکت نورو غړوهیوادونوپه افغانستان کی د شوروی اتحاد مداخله د دوی انتر نیشلیستی وظیفه بلله چی د افغانستان د دولتی زعامت په غوښتنه یی سرته رسوی .دوی د امریکا او نورو هیوادونو دا ادعا چی شوروی اتحاد افغانستان اشغال کړیدی د ملل متحد د منشور له مخی نه منله. له نژدی لسوکالو وروسته د افغان او شوروی دولتی زعامتونو د موافقی له مخی، د ژنیو د توافقاتو د پنځه فقره ایز پلان په اساس په ١٩٨٩ م کال کی د شوروی وسله وال ځواکونه په پوره امن کی له افغانستان نه و وتل او د تسلط ډرامه د تل د پاره پای ته ورسیده.

د شوروی لښکرو د وتو نه وروسته جګړی په لا ډیر شدت سره د افغان امنیتی ځواکونو او د مجاهدینو د وسله والو ډلو تر منځ د پاکستانی ملیشی ، افراطی عربی اجیرانو او نورو یاغی اسلامی ډلو او امریکا په مستقیمی همکاری پیل شوه. د نجیب الله د دولت وخت چی مخالیفینو دری میاشتی بللی وو تر دری کالو نه دزیات وخت د پاره وغزیده. خو کله چی په دولتی زعامت کی د ببرک کارمل شریکی ډلی او د جنرال دوستم ملیشای ځواک د نجیب الله د دولت په خلاف د احمدشاه مسعود په مشری د نظار د شورا او په مجموع کی د جمعیت اسلامی دجهادی ډلی سره په جبل السرج کی د ملګرتیا تړون لاس لیک کړ، نو د نجیب الله د ملی روغې جوړې پروسه یی چی د ملګرو ملتو د خاص استازی بینین سیوان په منځګړیتوب پر مخ بیوله کیده د ماتی سره مخامخ کړه او د نجیب الله دولت سقوط شو.

د نجیب د دولت د سقوط سره سم د کورنی جګړی دریم پړاو راپیل شو. د کورنی جګړی دا دریم پړاو له ( ١٩٩٢ نه تر د ١٩٩٦م) د جهادی بیلو بیلو ډلو تر منځ د قدرت د انحصار د پاره، چی هره ډله د خارجی دولتو لکه پاکستان، ایران، سعودی عربستان او نورو له خوا حمایه کیدله، وخت ونیو. په دی جګړه کی د کابل ټول ښار په کنډواله بدل شو، د (٦٠) زره نه زیات د کابل بی ګنه ښاریان و وژل شو او سلونو زره نور یی بیا د وطن پریښولو ته مجبور شول. د هیواد ټوله شتمنی چور چپاول او ټول نظامی تجهیزات د جنګی طیارو په شول د کباړ په توګه پاکستان ته یوړل شوو.(خو عجیبه خبره پکی داوه چی د جنګ په دی ټوله دوره کی د امریکا د متحده ایالاتو دولت د یوی کمی شیبی د پاره هم دا ستر بشری ناورین باندی فکر ونه کړ او د معاصری نړۍ په دی ستره تراژیدی باندی داسی غوږونه کاڼه کړل لکه هیڅ چی څه نه وی پیښ شوی.)دکورنی جګړی دا پړاود طالبانو په ظهور سره ختم شو.

د کورنۍ جګړی څلورم پړاو له (١٩٩٦م نه تر د ٢٠٠١م) دوام و موند. پدی پړاو کی طالبانو د کابل ښار د شمالی ټلوالی نه ونیوه. طالبانو په کمه موده کی د پاکستان او سعودی دولت په همکاری تقریباً د هیواد (٩٠٪) ساحه د خپل کنترول لاندی راوستله او دشمالی ټلوالی قواوی د تاجکستان تر سرحده پرشا ولاړی او په غرب کی د هرات د ولایت په اطرافو کی په دفاعی حالت کی پرتی وی.

طالبان لا د ټول هیواد په تصرف نه وو بریالی شوی چی په ۲۰۰۱م کال د سپتمبر د میاشتی په یوولسمه نیټه د نیویارک د نړیوال تجارتی مرکز ستری ودانی د یوی تروریستی حملی په نتیجه کی را نسکوری شوی او تر دری زره نه زیات بی گناه ملکی کسان پکی له منځه ولاړل. متحده ایالاتو د دی پیښی پړه په خپل پخوانی دوست او د بوش د کورنۍ د سوداګرۍ په پارټنر اسامه بن لادن او د هغه د القاعدی په سازمان ورواړوله. اسامه دا په افغانستان کی د طالبانو د رژیم سره ملګری شوی و، امریکا ی د طالبانو نه د هغه د تسلیمي غوښتنه وکړه، طالبانو یی غوښتنه ونه منله. امریکا د طالبانو د حریفی ډلی شمالی ټلوالي سره اړیکی ونیوی، پیسي یی ورکړلی او په طالبانو یی د ځمکنۍ حملی د پاره تیاره کړله.د ۲۰۰۱م د اکتوبر په اومه نیټه یی پرطالبانو هوای بریدونه پیل کړل او د ځمکی له لوری د شمالی ټلوالی حملی پر طالبانو تقویه کړلی.دواړو نظامی قوتونو(امریکا او شمالی ټلوالی) د همدی کال د دسمبر په میاشت کی د طالبانو رژیم ته مطلق سقوط ورکړ. امریکا او دنوری نړۍ ډیرو هیوادونو او مؤسسود امریکا دا نظامی یرغل تایید او هغه یی د تروریزم سره جګړه و بلله. ګڼ شمیر افغان او غیر افغان طالبان یی زندانونو ته واچول او د جرمنی د بن په ښارکی د افغانانو یو ګډوله زعامت د هیواد د اداره کیدو د پاره په غونډه کی د شاملو افغانانو په خوښه را منځ ته کړ.خو دی دولت هم د زیات وخت د پاره د ارام سا وانه خستلی شوه او د دیوی بلی جګړی بل نوی پړاو د افغان دولت او امریکل په وړاندی را پیل شو چی تر ننه دوام لری.

د افغانستان د کورنۍ جګړی دا پنځم پړاو د ۲۰۰۱م کال نه راپیل او ترننه پوری دوام لری .دی جګړی چی یو اړخ یی امریکا ،ملګری یی او افغان دولتی نوی جوړه شوی اردو ده اوبله خوایی یاغی طالبان او نړیوال ملګری دی چی د پاکستان د آی اس آي د جاسوسۍ د دستګاه په نیغه همکارۍ او د ایران په شمول د نورو هیوادونو په غیر مستقیمه مرسته بی رحمانه وسله واله جګړه کوی ، تر ټولو نورو پړاونو نه زیات وخت ونیو. اتلس کاله ګیرې چی دا جګړه روانه ده او په دی ټوله اوږده موده کی یوی خوا هم بلی خواته دومره زیان او تاوان نه دی رسولی لکه د افغانستان ولسی خلکو ته چی رسولی او رسوی یی.

په لنډه توګه ویلای شو چی د افغانستان په دی اوږده ناورین او ددی تحمیل شوي کورنی جکړی په اوږدو کی په تخمینی توګه د م د ۲۰۱۸م کال د راپورونو په اساس له (۱،۴۰۵،۱۱۱) څخه تر (۲،۰۸۴،۴۶۸) تنو پوری انسانان قربانی شوی دی . د دی دوه چنده نور معیوب شوی او د هغوی دوه یا دری چنده نور له خپل وطن مهاجر او بی ځایه شویدی.

نتیجه: ومو لیدل چی شوروی اتحاد په افغانستان نظامی تجاوز په هر نیت چی و، وکه. نژدی لس کاله د هرچا سره چی و، وجنګیدل. خو ویی نه شو کولی چی دی هیواد باندی خپل سیاسی او اداری تسلط قایم کاندی او دا هیواد خپله مستعمره و ګرځوی.

پاکستان د افغانسان د پاره جهادی تنظیمونه او د طالبانو تحریک جوړ کړ. په خپله خوښه یی د دوی زعامتونه و ټاکل او په کابل کی یی قدرت ته ورسول. ځینو جهادی مزدورو رهبرانو خو ورسره د فدرالی دولت د جوړیدو منښته هم کړی وه ،خو ویی نشو کولی چی د خپل مرام او پلان سره سم افغانستان د خپل کنترول لاندی راولی او پنځمه صوبه تری جوړه کاندی او یایی د خپل هیواد یوه برخه وګرزوی.

امریکا هم په افغانستان نظامی یرغل وکه، طالبان یی د قدرت نه وغورزول. نابودی ته نژی د افغان جنګیالیو یوه برخه یی چی په شمالی ټل واله کی راټول شوی ول د حملو په وخت کی د ځان سره ملګری کړل او بلاخره یی قدرت

ته ورسول. خو ویی نه شو کولی چی افغانستان لکه څنګه چی یی دوی آرزو لرله د خپل تسلط لاندی راولی. دوی چی دلته د بیلیونونو ډالرو په مصرف سره د خپلی خوښی کوم زعامتونه جوړ کړی وو، هماغه زعامتونه یی هم په دی راضی نه شو کړلی چی د دوی جوړو شو پلانونو ته د قبولیت سر و خوزوی. دادی اوس بیا د طالبانو سره لګیا دی د خپلی خوښی او د پاکستان د غوښتنو سره د سم، زعامت د جوړیدو د پاره هلی ځلی کوی، محاسبی کوی، تهدیدونه کوی او د خپلو راتلونکو ګټو د تامین د پاره، د دوی په مرسته د جوړ شوی نظام د له منځه وړلو د پاره زیارکاږی. خو مونږ پوره باورلرو چی دا ارمان به یی ځکه تر سره نشی چی افغانان د ټولو کمبدیو سره سره یوه ذاتی او د له منځه نه تلونکی غریزه هم لری او هغه ده، د آزادی او خپلواکی سره مینه. زما په اند تر اوسه همدا یواځنی مینه د دی سبب جوړ شویدی چی هیڅ زبرځواک په دی نه دی توانیدلی چی د دی هیواد سیاسی کنترول او اداره د اشغال له لاری په لاس کی واخلی او د یوه مستعمره هیواد په توګه چلند ور سره و کاندی.

په آخر کی غواړم خپل نظر تاسو سره شریک کړم او و وایم: هغه دوستان او سیاسی تحلیل کونکی چی افغانستان یی په دی تیره نیمه پیړی کی د پیلو بیلو قدرتونو له لوری اشغال بللی او یایی اوس بولی شاید د سیاسی نورمونو له مخی به خپل د لایل ولری. خو زه د هغو نعریفونو د په نظر کی نیولو له مخی چی د لیکنی په سرکی وړاندی شویدی، تر اوسه لا په دی نه یم قانع شوی چی افغانستان دی په دی تیری نیمی پیړی کی یا اشغال شوی او یا مستعمره شوی هیواد وی. ډیرو هیوادونو به زمونږ د هیواد په چارو کی ډول ډول مداخلی کړی وی او لا به یی هم وکړی خو افغانستان به نه اشغال شی او نه مستعمره. پای.

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!